Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دويم کال - ۳۳مه ګڼه | پرله‌پسې ۴۷مه ګڼه
نېټه: ۱۴۰۲/۹/۶



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعاليتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستيو اقتصادي فعاليتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- نړيوال بانک وايي د افغانستان صادراتو کې زياتوالی راغلی

۲- کابل کې د امام ابوحنيفه (رح) ځلورم ننداړتون جوړېدل

۳- د سيمنټو داخلي اړتيا پوره کولو له پاره له ځينو هېوادونو سره هوکړې

# نړیوال بانک وايي د افغانستان صادراتو کې زياتوالی راغلی




سره له دې چې د افغانستان د اقتصاد پر وړاندې ځينې بهرنۍ ننګونې لکه بهرني تحريمونه شته، خو د نړيوال بانک د يو وروستي راپور پر بنسټ، د افغانستان اقتصاد د پرمختګ په حال کې دی.

راپور کې ويل شوي، پاکستان لارې ترلي، خو سره له دې د افغانستان صادرات د سپټمبر مياشتې په پرتله په اکتوبر مياشت کې ۱۳ سلنه زيات و.

شاوخوا دوه مياشتې وړاندې چې پاکستان په يو اړخيز ډول د افغانستان د سوداګرۍ او ترانزيټ پرمخ لارې وتړې، نو د افغانستان اسلامي امارت او افغان سوداګرو له نورو بديلو لارو خپلې سوداګرۍ ته زياتوالی ورکړ.

ايران، هند، ازبيکستان او د سيمې د نورو هېوادونو له لارې د افغانستان سوداګري زياته شوه او د دې هېوادونو له لارې افغانستان ترانزيټ پيل کړ.

افغانستان که څه هم په وچه کې ايسار هېواد دی او په مستقيم ډول اوبو ته لاسرسی نه لري، خو د اسلامي امارت اقتصاد محوره پاليسي او مثبتې اړيکې د دې لامل شوې چې افغانستان له دې حالته ووځي او له نړۍ سره د سوداګرۍ له پاره بديلې لارې وکاروي.

افغانستان اوس مهال د سوداګرۍ له پاره پر يو هېواد متکي نه دی او که چېرې پاکستان خپلې لارې همداسې بندې وساتي، نو بيا هم افغانستان کولی شي چې له نورو لارو خپلې اړتياوې پوره او سوداګري جاري وساتي.

# کابل کې د امام ابوحنيفه (رح) څلورم نندارتون جوړېدل

په کابل کې د امام ابوحنيفه (رح) څلورم ملي او نړيوال نندارتون پای ته رسېدلی. له دغه نندارتونه شاوخوا يو ميليون کسانو ليدنه کړې او د ميليونونو ډالرو په ارزښت



په کې هوکړه ليکونه لاسليک شوي دي.

په دې نندارتون کې د کورنيو پانګوالو او سوداګرو په ګډون د ازبيکستان، ايران، هند او ځينو نورو هېوادونو شرکتونو په لسګونو غرفو کې خپل توکي نندارې ته وړاندې کړي وو. په دغه اووه ورځني نندارتون کې د اتيا ميليون افغانيو په ارزښت توکي پلورل شوي دي. دغه ډول نندارتونونه د افغانستان د سوداګرۍ او اقتصادي پرمختګ له پاره ډېر مهم دي، ځکه افغان سوداګر خپل توليدات او محصولات په کې نندارې ته وړاندې کوي او له بهرنيو شرکتونو سره د قراردادونو له لارې پانګونه جذبوي.

د افغانستان اسلامي امارت له دغه ډول نندارتونونو ملاتړ کوي او هيله لري چې دا ډول نندارتونونه به د هېواد د اقتصادي ودې لامل وګرځي.

# د سیمنټو داخلي اړتیا پوره کولو له پاره له ځینو هېوادونو سره هوکړې

د پاکستان له لوري د افغانستان د سوداګرۍ او ترانزیټ پرمخ د لارو تړلو له امله په هېواد کې د سیمنټو بیې یو څه لوړې شوې، خو د افغانستان اسلامي امارت مسوولین یې له ځنډه د منځنۍ اسیا له ځینو هېوادونو سره تړونونه وکړل. دغه ډول یو تړون له ازبیکستان سره وشو، چې پر بنسټ به یې افغانستان ازبیکستان ته د ډېرو سکاره صادروي او له هغې خوا به افغانستان ته سیمنټ راځي، څو د افغانستان داخلي اړتیا پوره شي.

دغه راز، ایران هم افغانستان ته د سیمنټو صادرات پیل کړي، چې له امله یې په هېواد کې د سیمنټو بیو کې بدلون راغلی دی. افغانستان په ډېرو لږو توکو کې په پاکستان متکي دی، چې له هغې جملې یو هم سیمنټ دي، خو اسلامي امارت دغې چارې ته متوجه دی او په هېواد کې د سیمنټو د تولید ظرفیت ته په کتو د هېواد په مختلفو ولایتونو کې د سیمنټو د تولید د کارخونو چارې پیل کړې دي.

په لوګر، کندهار او بغلان کې د سیمنټو د کارخونو جوړولو کارونه روان دي، چې په نږدې وخت کې به د سیمنټو تولید پیل کړي او افغانستان به د سیمنټو په برخه کې ځان بسیاینې ته نږدې کړي.

